UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
http://unama.unmissions.org
مطبوعاتي بیانیه

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازی**
**ښاغلی ستفان دی مستورا وینا   د سولې د عالی شورا په هکله**
**۲۰۱۰، د اکتوبر ۳۱**

د افغانستان د سولې د عالی شورا د غوښتنې په ځواب کې، نن د دغه شورا او د ملګرو ملتونو تر منځ ، ددوی د پام وړ کار په اړه  د ملګرو ملتونو د ملاتړ په هکله ګټورې او رغنده خبرې اترې ترسره شوې.

موږ  د سولې د عالی شورا د جو ړیدو نه هرکلی وکړ او د نړیوالې ټولنې په استازیتوب د ملګرو ملتونو تیاری ته اشاره وکړ ځو په راتلونکې کې د سولې د عالي شورا سره د هغوي په کارونو او فعالیتونو کې تخنیکي ملاتړ وکړو.

په دې ډګر کې یوناما د کارپوهانو د یوې ځانګړې ډلې د جوړیدو اعلان  کوی، چې د سلام د ملاتړ په نوم یادیږي او د سولې عالي شورا ته به د دې مهمې ادارې د کار په ټولو برخو کې ملاتړ برابروي.

یوناما همدارنګه د سولې د عالي شورا د فعالیتونو د ملاتړ په موخه د لوجستکي اسانتیاوو د برابرولو چمتوالی هم په ډاګه کړ.

د یوناما له خوا د سولې د عالې شورا لپاره ملاتړ د امنیت شورا له اختیاراتو سره په موافقیت کې دی، څو په دې توګه د پاییښت لرونکې سولې او پرمختیا د بنسټونو د ایښودلو لپاره له افغانستان او افغانانو سره مرستې ترسره کړي. په دې ماموریت کې د ملي پخلاینې او د سیمه ییزو خبرو اترو او برخې اخیستنې، چې موخه یې د تل پاتې سولې تامین دی، د مرستې رول شامل دی.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.